**بسم الله الرحمن الرحیم**




**د محمد ابوالعسل پوښتنې ته ځواب:**

**پوښتنه**

السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

امیر صاحب الله سبحانه و تعالی د ستاسو په وخت، هڅو او پوهه کې برکت واچوي!

زه یوه پوښتنه لرم: ایا د حزب له لوري د خلافت د تاسیس طریقې ته قطعي دلایل شته؟

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمته الله وبرکاته.

په ټوله کې د دریوو پړاوونو لپاره قطعي دلایل شته:

رسول الله صلی علیه وسلم د دعوت په لومړیو کې کابو د درېوو کلونو لپاره پټ دعوت کاوه. هغه صلی الله علیه وسلم د ارقم ابن ابې الارقم په کور کې مسلمانان تثقیفول.

د لاندې ایت تر نازلېدو وروسته هغه صلی الله علیه و سلم خپل دعوت په څرګنده توګه اعلان کړ:

**﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾**

[الحجر:۹۴]

*ژباړه: نو ته په زغرده بیان کړه هغه څه چې تا ته یې امر شوی دی او له مشرکانو څخه مخ واړوه.*

د پورتني ایت ثبوت قطعي(قطعي الثبوت) دی او په دلالت کې هم قطعي(قطعي الدلالة) دی، ځکه رسول الله صلی علیه و سلم د یاد ایت تر نازلېدو مخکې په پټه دعوت کاوه او د یاد ایت تر نازلېدو وروسته یې خپل دعوت په ښکاره اعلان کړ، ده صلی الله علیه و سلم د دغه پړاو په ترڅ کې **فکري او سیاسي مبارزې ته مخ واړاوه او د یاد پړاو په پای کې یې د طلب النصره (مادي ملاتړ) غوښتنه وکړه.**

په فکري مبارزه کې د بتانو، باطل عبادت په ډاګه کېده او د کفر پر ضد دلایل وړاندې کېدل. بېلا بېل ایتونه یاده مبارزه په ډاګه کوي، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ﴾**

[الطور:۳۵]

*ژباړه: ایا دوی له کوم خالق پرته پیدا شوي دي؟ یا هم پخپله د خپل ځان پیدا کوونکي دي؟*

**﴿قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ * وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾**

[الصافات:۹۵-۹٦]

*ژباړه: هغه وویل: ایا تاسې د خپل لاس توږل شوو څېزونو بندګي کوئ. په داسې حال کې چې الله تاسې هم پیدا کړی او هغه څیزونه هم چې تاسې یې جوړوی.*

**﴿وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِ﴾**

[النحل:۵۱]

*ژباړه: او الله وویل تاسو دوه خدایان مه نیسئ، خدای خو یو دی، نو تاسو یوازې له ما څخه  ووېرېږئ.*

﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ﴾

[المومنون:۹۱]

*ژباړه: الله هیڅوک خپل اولاد نه دی ګڼلی او له هغه سره کوم بل خدای نه شته. که داسې وای، نو هر خدای به خپل مخلوق بېل کړی وای او بیا به یې یو پر بل باندې برلاسي کوله. الله له دغو خبرو څخه پاک دی چې دوی یې کوي.*

﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾

[الاخلاص:۱-۴]

*ژباړه: اې نبي! ته دوی ته ووایه، چې الله یوازې یو دی. الله هیچا ته اړ نه دی نه یې څوك زېږولی او نه چا زېږولی. هیڅوك د هغه سیال نه شي کېدای.*

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ * لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ * وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴾

[الکافرون:۱-٦]

*ژباړه: اې نبي! ته دوی ته ووایه، چې اې کافرانو! زه د هغو شیانو عبادت نه کوم چې تاسو یې عبادت کوی. نه تاسو د هغه ذات عبادت کوونکي یاست چې زه یې عبادت کوم. نه زه د هغه شي عبادت کوونکی یم چې تاسو یې عبادت کوی او نه تاسو عبادت کوونکي یاست د هغه ذات چې زه یې عبادت کوم. تاسو ته ستاسو دین دی او ما لره زما دین دی.*

او داسې نور ګڼ شمېر ایاتونه په دې اړه نازل شوي دي.

د سیاسي مبارزې په اړه ډېر داسې ایتونه نازل شوي، چې د دوی پر عقیدو، مشرتوب او ګمراهیو یې نیوکې کړې او ګڼ شمېر ایاتونه دا واقعیت په ګوته کوي:

﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ * مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ * سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ * وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ * فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ﴾

[المسد:۱-٦]

*ژباړه: د ابو لهب لاسونه هلاك شول او دی هم هلاك شو، د هغه شتمني او څه يې چې ګټلي و، هغه ته په درد ونه خوړل. هرو مرو به لمبې وهونکي اور ته ننوځي او له هغه سره به يې ښځه هم چې د خسو د پنډونو راوړنکې وه، په داسې حال اور ته واچول شي چې په غاړه کې به يې د خرما له پوستکو څخه اوبدل شوې کلکه لويه رسۍ وي.*

**﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا * وَجَعَلْتُ لَهُ مَالاً مَمْدُودًا * وَبَنِينَ شُهُودًا * وَمَهَّدْتُ لَهُ تَمْهِيدًا * ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ * كَلَّا إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا * سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا * إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ * فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ * ثُمَّ نَظَرَ * ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ * ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ * فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ * إِنْ هَذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ * سَأُصْلِيهِ سَقَرَ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ * لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ * لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ * عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾**

[المدثر:١١-٣٠]

*ژباړه: پرېږده ما او هغه څوك چې ما يوازې پيدا كړ. بيا مې ورته ډېر زيات مال وركړ او د هغو ترڅنګ مو زامن وركړل او د هغه لپاره مو د مشرتابه لاره هواره كړه. بيا دی تمه لري چې ورته لا زيات څه وركړم. هيڅكله نه، هغه زموږ د ايتونو دښمن دی. ډېر ژر به يې په سخت عذاب اخته كړم. هغه فكر وكړ او د كومې خبرې كولو هڅه يې وكړه. هغه د هلاك شي، ده څرنګه د خبرو كولو هڅه وكړه ؟ خدای د هغه ووهي، څرنګه يې د خبرو جوړولو هڅه وكړه؟ بيا يې د خلكو لوري ته وكتل. وچولی يې تريو كړ او خوله يې بوسه كړه. بيا يې شا واړوله او تكبر يې وكړ. نو ده وويل، دا (قرآن) له كوډو پرته بل څه نه دی، چې له پخوا څخه را رواني دي. دا خو يو انساني كلام دی. ژر به زه دی د دوزخ اور ته ننباسم او ته څه شي پوه كړې چې سقر (د دوزخ اور) څه شی دی؟! داسې اور دی چې نه يې پرېږدي او نه يې خوشې كوي. د انسان د پوستكي ايېلوونكی دی. په هغه اور باندې نولس كاركوونكي (ملايكې) ټاكل شوي دي.*

**﴿وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَهِينٍ * هَمَّازٍ مَشَّاءٍ بِنَمِيمٍ * مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ * عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ * أَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ * إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ * سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ﴾**

[القلم:١٠-١٦]

*ژباړه: هيڅكله د داسې چا تر اغيز لاندې مه راځه چې زيات قسم خوړونكی، بې باوره، له نېكۍ منع كوونكی، تېری كونكی، سخت بدعمله. ډېر بد خويه او د دې ټولو عيبونو تر څنګ حرامي دی. له دې امله چې دی د مال او زامنو خاوند دی؛ نو كله چې زموږ ايتونه ورته ولوستل شي بيا وايي، دا د لومړنيو خلكو كېسې دي. ژر ده چې موږ به د ده په پزه باندې داغ كېږدو.*

رسول الله صلی الله عليه و سلم د طلب النصره (مادي ملاتړ) غوښتنه له هغو خلكو څخه كوله، چې د دفاع او ځواك خاوندان وو. ده صلی الله عليه و سلم له ځواكمنو قومونو څخه د ملاتړ غوښتنه كوله او مصعب رضی الله

عنه يې مدينې منورې ته ولېږه او انصارو رضی الله عنهم ورته مثبت ځواب ورکړ او دغه چاره د عقبې د دويم تړون د لاسليکېدو لامل شوه.

**رسول الله صلی الله علیه و سلم لومړی اسلامي دولت په مدينه منوره کې تاسيس کړ.**

د يادو درېوو پړاوونو دلايل قطعي دي، که څه هم د يادو درېوو پړاوونو په تړاو په جزياتو کې ځينې ظني (غير قطعي) شواهد شته، لکه: په پټه د تثقيف جزيات، په ښکاره د دعوت د اعلانولو جزيات، د فکري او سياسي مبارزې د پر مخ وړلو جزيات، د هجرت او د عقبې د دويم تړون تر لاسليکېدو وروسته د خلافت د تاسيسولو جزيات. د يادو جزياتو په تړاو شواهد ظني او صحيح دي. هر څوک چې زموږ کتابونه او رسالې ولولي په څرګنده توګه د يادو دريو پړاوونو په اړه پکې قطعي دلايل بيان شوي دي او د ځينو جزياتو په اړه، چې شواهد يې ظني دي هغه استنباط شوي دي.

له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم، چې ياد موضوعات به ښه درته روښانه شوي وي.

**ستاسې ورورعطا بن خليل ابو الرشته**

**ژباړن: صديق احمدزی**

**۱۴۳۹ هـق، د شوال ۱۷ مه**

**۲۰۱۸ م، د جولای لمړی**